فدا- نظری
د افغانستان لپاره د ستراتیژیکو څیړنو مرکز

لندن 29 جنوری، ۲۰۰۹

# د افغانستان د جمهور رییس محترم حامد کرزی په نامه سر خلاصی لیک

گران او محترم ورور حامد کرزي د افغانستان جمهور رييس!

هیله ده تاسو، ستاسو محترمه کورنی او همکاران جوړ او بریالي اوسی۰

څو هفتی وړاندی کله چی تاسو لندن ته تشریف راوړي ما او په لندن کی ګڼو روشنفکرانو ډیر تلاښونه وکړل چی که وکولای سو د یوه یا نیم ګړی لپاره تا سو وګورو۰ موږ غوښتل ستاسو سره هغه اندیښنی شریکی کړو چی په لندن کی د لږ تر لږه اتیاوو زرو اوسیدونکو افغانانو ډیرکی ته ورپیدا دي، خو په هیڅ توګه بریالي نه شو۰ هیله ده په راتلونکي کی، کله چی تاسو بل ځل لندن ته تشریف راوړی، زموږ لندنی "ګرداب" دا ویاړ ولري چی تاسو یي لږ تر لږه یو مازدیګر میلمه و اوسی۰

محترم کرزی صاحب!

یوه د هغو مسلو څخه چی موږ ته په عامه توګه او په لندن کی د کندهار او جنوب لویدیځی حوزی پوري تړلو افغانانو ته په خاصه توګه د ژوری اندیشنی وړ ده هغه د کندهار مسله ده۰ څرنګه چی موږ او تاسو ټوله پوهیږو له بده مرغه د افغانستان زیاتره نا آرامی د افغانستان په جنوب لویدیځه حوزه کی دی چی مرکز یي کندهار د ی ۰یعنی کندهار اوس هم خپل پخوانی ستراتیژیک اهمیت ساتلی دی، نو ځکه موږ فکر کوو چی موږ ټوله او په تیره بیا تاسو محترم هغه ته ډیره توجه ولری۰
په اوسنیو شرایطو کی د دغی توجه یوه مرکزي او بنسټیزه برخه په کندهار کی د یوی غښتلي اداری او ټینګ حکومتی واک او ځواک شته والی دی۰ موږ فکرکوو چی په کندهار کی دغه ډول یوه اداره نه یوازی شتون نه لري بلکه د دغه ولایت حکومتی ځواک تر ټولو نورو دولتی ادارو ضعیفه دي۰
رشتیا خبره دا ده چی د کندهار په ولایت کی د سیمی د یوه ولایتی اوزونی مرکز په توګه "دوه ګونی" قدرت وجود لري۰ د دغه دوه ګونی واک یوه برخه هغه دولتی چارواکی دي چی نه د لیاقت بلکی د قومي او قبیلوي اړیکو او نورو ناروا معامله ګریو له مخی مقرر او کله بیا بد لیږي۰ خو د اداري واک ډیره بنسټیزه او درنه برخه ستاسو ورور محترم احمد ولی "کرزی" دی۰ احمد ولی په ظاهره د کندهار د ولایتی شورا د رییس په توګه په اصطلاح د کندهار خلکو ته خدمت کوي، خو په حقیقت کی په کندهار کی تر هرچا لوړ او قدرت لرونکی دی۰ احمد ولی د کندهار هغه "پاچا" دی چی ټوله صلاحیت یي په لاس کی دی خو هیڅ مسؤلیت نه لري۰

محترم کرزی صاحب!

ستاسو تر غوږو باید دغه "څرګند راز" در ورسوم چی د احمد ولی په هکله خلک ډیر شکایتونه لري او شکمن دي، په دی مسله ستاسو ټول دوستان هم خبر دي، خو د ډاره او یا د حیا له مخی نه غواړي مخامخ درته ووایي۰ موږ هم نه غوښتل دا خبره یاده کړو، خو اوس فکر کوم بله چاره نشته بیله دی چی په اصطلاح سترګی سپینې کړو او مخامخ یي یادونه درته وکړو۰

محترم جمهور رییس صاحب!


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

موږ نه غواړو پر احمد ولی خان هغه تورونه وتړو یا یې یادونه وکړو چی نور یې پر وایي، ځکه موږ دلته نه د لوی څارنوال په رول کی یو او نه د قاضی القضات، موږ یوازی په هیوادنی مینه تاسو ته وایو چی:

زموږ د هیواد په ډیر لنډ تاریخ کی چی موږ او تاسو ټولو هغه د سر په سترګو لیدلي او خلکو هم نه دي هیر کړي یو تریخ حقیقت وجود درلود او هغه دا چی د وروستیو **"تورو او سرو"** حاکمیتونو په دوروکی موږ له بده مرغه د احمد ولی غوندی ډیر احمد ولیان لرل چی د هغو ناوړو کړو وړو نه یوازي پخپله دوی بدنام بلکی خپل واکمن وړونه یی هم شرمولي وو
.

د حفیظ الله امین ورور عبدالله "امین" او د ده وراره او زوم اسدالله "امین" چی لومړی یي د شمال د سمت تنظیمه رییس او دوهم یی په اصطلاح د "اګسا" رییس وو د افغانستان و خلکو ته د ډیرو بدبختیو د لامیلونو څخه شول. ما فقط پرون په یوه کتابګوټی کی ولوستل چی د هغی دوری د دباندنیو چارو د وزیر او د صدراعظم د مرستیال د خولی څخه یی لیکلی وو" په هره کوڅه کی چی به عبدالله امین تیریدی نو مځکی او دیوالونه به د حفیظ الله امین پر ضد راپورته کیدل."

وروسته بیا د ببرک کارمل تیوریسن ورور محمود بریالی هم یو داسی احمد ولی و چی د خپل ورور په زور پر نیلی آس سپور وو، قدرت یی هیڅ حد او اندازه نه لرل، که څه هم په ښکاره به یی ډیری ستری دولتی څوکی نه وي نیولي.

د احمد شاه مسعود وړونه چی یو یی احمد ضیا او بل یی ستاسو ورور غوندی احمد ولی نومیږی هم د دغه ډول "وړونو" په حساب کی دي. دغه دوه "برادران" چی یو یی ستاسو په پیر زوینه او د خپل "قهرمان" ورور په برکت همدا اوس د جمهور رییس مرستیال دی او د بل یی حتی په تاسو هم سترګه نه ډکیږي په لندن کی د ساده پیزه جوړونکو Pizza Makers په سطح او کچه خلک وواو دي.
په پای دغه نا آرامه کوونکی بحث نه اوږدوم، ستاسو څخه ټینګه هیله لرم چی محترم احمد ولی جان کرزی دلته لندن ته د لوی سفیر په توګه راواستوی. موږ ډاډه یو د ده کفایت او موثریت به په لندن کی ستاسو تر اوسنی سفیر لږ نه وي چی با الکل بیده دي او د دنیا په هیڅ قصه نه دی خبر او نه یی غم لري.
موږ به تل دی نازوو او لالا به ورته وایو.

ګران کرزی صاحب!
که سپین سترګی شوی وي بخښی به مو خو په پاک خدای(ج) باورو لری چی د هیواد د آبادی او آرامی نه پرته دغه لیک بل هیڅ مخه نه لري.
په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de